# څه پېښ شوي دي؟

د دې کال په جنورۍ کې، د سره صلیب نړیوالې کمیټې ICRC د سایبر امنیت سرغړونه وموندله، وروسته له هغه چې هیکرانو وکولی شول د دوی کمپیوټرو شبکې ته غیر مجاز ننوتل ترلاسه کړي او دوسیو ته لاسرسی چې د نړیوالې سره صلیب او ریډ کریسنټ غورځنګ د فامیل لینکس خدماتو بحالولو پورې اړوند معلومات لري، ICRC هغه دوسی نیولې چې د کورنۍ لینک خدماتو ملاتړ کوي او ټول معلومات آفلاین دي پداسې حال کې چې دوی د پېښې پلټنه کوي.

د ICRC سایبر امنیت سرغړونې په اړه د برتانیا سره صلیب د رسانیو بیان **دلته** موندلی شئ.

**دا کار چا کړی او د معلوماتو سره به څه وکړي؟**
**کوم معلومات اغېزمن شوي دي؟**
**که چیرې زه د خپل معلوماتو په اړه اندیښمن یم له چا سره اړیکه ونیسم؟**
**د هغو خلکو لپاره مشوره چې ممکن اغېزمن شوي وی**
**د برتانیا سره صلیب (برټش ریډ کراس) څه دنده لری؟**
**زه څنګه کولی شم نور معلومات ترلاسه کړم؟**

# دا کار چا کړی او د معلوماتو سره به څه وکړي؟

IRC باور لري چې دا یو پیچلې سایبر امنیت سرغړونه وه؛ خپه هر صورت دوی نه پوهیږي چې څوک یې تر شا دي او تر اوسه چا د پېښې مسولیت په غاړه نه دی اخیستی، په اوسني وخت کې، داسې شواهد هم شتون نلري چې د سایبر امنیت سرغړونې په پایله کې شخصي معلومات ورک شوي وي، غلا شوي وي، بې کاره کارول شوي یا خپره شوې وي.

# کوم معلومات اغېزمن شوي دي؟

د سایبر امنیت سرغړونې کې د ICRC سرورونو ته غیر مجاز لاسرسی شامل و چې د نړیوال سره صلیب Red Cross او سرې میاشتې غورځنګ Red Crescent Movement د فامیل لینکس خدماتو بحالولو پورې اړوند معلومات ورلود. ICRC د بهرنیو متخصصینو سره کار کوي ترڅو وضعیت تحلیل کړي او معلومه کړي که چیرې کوم شخصي معلومات اغېزمن شوي دي.

هغه شخصي معلومات چې ممکن اغېزمن شوي وي لاندې کټګورۍ کې شامل دي:

- د هغو کسانو په اړه معلومات چې د دوی کورنۍ لټوي او د کورنۍ د غړو تفصیلات، د بیلګې په توګه، نومونه، جنسیت، د زیږون نېټه، د زیږون ځای،نژادي یا توکمیز اصل،
- ادرسونه، بریښنالیک پتې او د تلیفون شمیرې،
- د هغو کسانو تر منځ د کورنۍ اړیکو په اړه معلومات چې د خپلو کورنیو په لټه کې دي او د کورنۍ ورکې شوي غړي.

دا پیښه یوازې د برتانیا سره صلیب British Red Cross نړیوال کورنۍ تعقیب خدمت اغیزه کړي ده، کوم چې په موقتي توګه ځنډول شوی دي. دا د برتانیا سره صلیب British Red Cross په کوم بل خدمتونه یا ډاټا باندي اغیزه نه کوي.

د برتانیا سره صلیب او ICRC په ګډه کار کوي ترڅو د ICRC سایبر امنیت سرغړونه وڅیړي او دا ارزونه وکړي چې ایا کوم شخصي معلومات اغیزمن شوي دي.

# زه له چا سره اړیکه ونیسم که چیري زه د خپل شخصي معلوماتو په اړه اندیښمن یم؟

که چيري تاسو د خپل شخصي معلوماتو د خونديتوب په اړه انديښمن ياست، يا غواړئ خپل شخصي معلومات حذف کړئ، مهرباني وکړئ بريښناليک وليږئ **dataprotection@redcross.org.uk.** که چيري تاسو غواړئ د سايبر بريد په اړه له چا سره خبرې وکړئ، مهرباني وکړئ موږ ته زنګ ووهئ په **0300 373 0192** (چې شتون لري دوشنبه - جمعه د سهار له 10 بجو څخه تر ماښام 5 بجو پورې). ژباړونکي شتون لري.

# د هغو خلکو لپاره مشوره چې ممکن اغيزمن شي

د ICRC سايبر امنيت سرغړونې وروسته، دا مهمه ده چې د بريښناليکونو، متنونو يا تليفون زنګونو ته د ځواب ويلو په اړه محتاط اوسئ چې تاسو فکر کوئ ممکن ريښتيني نه وي.

د مثال په توګه، که چيري تاسو يو غير متوقع بريښناليک يا متن پيغام ترلاسه کړئ چې ادعا کوي چې دوي سره صليب څخه دي يا ستاسو د شخصي معلوماتو غوښتنه کوي:

- **په متن** په هيڅ لنکونو باندې کليک مه کوئ.
- **سمدستي پيغام ډيليټ کړئ او** بل چاته يې مه وړاندې کوئ يا يې شريک کړئ.
- **دې پيغامونو ته ځواب مه ورکوئ** يا شخصي توضيحات مه شريکوئ

هرکله چې شک ولرئ، د نورو ګامونو اخيستلو دمخه مهرباني وکړئ بريښناليک واستوئ په **dataprotection@redcross.org.uk,** يا مونږ تا زنګ راکړئ **0300 373 0192** (شتون لري دوشنبه - جمعه د سهار له 10 بجو څخه تر ماښام 5 بجو پورې). ژباړونکي شتون لري.
که چيري تاسو د خپل خونديتوب په اړه انديښنه لرئ، مهرباني وکړئ له پوليسو سره اړيکه ونيسئ.

# د برتانيا سره صليب (برټش ريډ کراس) څه کوي؟

BRC او ICRC د بهرنيو متخصصينو سره په ګډه کار کوي ترڅو د سايبر امنيت سرغړونې تحليل کړي او معلومه کړي چې څه پيښ شوي دي، او همدارنګه ارزونه کوي چې آيا کوم شخصي معلومات اغيزمن شوي دي.

موږ د هغو خلکو سره د تماس په پروسه کې يو چې ممکن په احتياطي توګه اغيزمن شوي وي، ترڅو موږ ځان پوهه کړو او ملاتړ يې وکړو. موږ وضعيت له نږدې څارو او موږ به خپله ويب پاڼه تازه وساتو که چيري څه هم بدلون ومومي.

# زه څنګه کولی شم نور معلومات ترلاسه کړم؟

### د کورنۍ تعقيب نړيوال خدمت

د سايبر امنيت سرغړونې له امله، ICRC او برتانوي سره صليب British Red Cross پريکړه کړې چې د احتياط په توګه د اوس لپاره زموږ د نړيوالې کورنۍ تعقيب خدمت ودروي. د دې وخت په جريان کې، موږ نشو کولی د خلاص قضيو په اړه کوم تازه معلومات ورکړو يا نوي راجع کونکي ومنو. موږ د هغو لارو په لټه کې يو چې موږ وکولی شو چې دې اوږد مهاله کار ته دوام ورکړو او څومره ژر چې کولی شو دا پاڼه تازه کړو.

موږ ډير خواشيني يو چې څه پيښ شوي دي، او موږ پوهيږو چې د ICRC سايبر امنيت سرغړونې په اړه اوريدل کيدی شي د ځينو خلکو لپاره د انديښنې وړ دي چې زموږ د نړيوالې کورنۍ تعقيب خدماتو سره اړيکه لري.

موږ د هر هغه چا لپاره چې د برتانيا د سره صليب British Red Cross نړيوالې کورنۍ تعقيب خدمت لخوا ملاتړ کيږي يو وقف شوی وړيا تليفون لاين رامينځته کړی دي څوک چې پوښتنې لري يا غواړي د ICRC سايبر امنيت څخه د سرغړونې په اړه خبرې وکړي.

مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره د برتانیا سري صلیب British Red Cross نړیوال کورنۍ تعقیب خدمت سره اړیکه ونیسئ په **0300 373 0192** (چې شتون لري دوشنبه - جمعه د سهار له 10 بجو څخه تر ماښام 5 بجو پورې).
ژباړونکي شتون لري.

موږ به دا د ویب پاڼه تازه کړو کله چې موږ د شریکولو لپاره نور معلومات ولرو.